مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدهمالون همت
۲۰۲۶/۰۲/۰۵

# ایا تعصب د افغانستان د ټولنې د ملي ارزښتونو،

## ملي وحدت او خپلواکۍ بنسټیز خنډ دی؟

### یوټولنیز– سیاسي بحث

**لنډیز**

دا مقاله د افغانستان په ټولنیز واقعیت کې د ګډ ژوند درې بنسټیز مفاهیم (اصطلاحګاني)—ملي ارزښتونه (د ګډ ژوند معیارونه)، ملي وحدت (یو موټیوالی/ګډ هویت) او خپلواکي (خپل‌اختیاري،ازادي،خپلواک تصمیم)—لومړی په ملي او بیا په نړیوال چوکاټ کې تعریفوي. وروسته "تعصب" (اړخنیونه/ډله‌ییزه‌پلوۍ) په مفهومي معیارونو تشریح کوي: (۱) د افغاني کلتوري فهم له مخې، (۲) د نړیوالې ټولنیزې ارواپوهنې له مخې. ورپسې د تعصب ډولونه بیانوي او ځرګندوي چې افراط، تبعیض او باخصوص تعصب څنګه ملي ارزښتونه کمزوري کوي، ملي وحدت زیانمنوي او د خپلواکۍ سیاسي، اقتصادي، اداري او فکري بنسټونه ناتوانه کوي.
لیکنه استدلال کوي چې تعصب عموماً د ایستنې (Exclusion/ګوښه کول) او انحصار (Monopolization/واک په یوه ډله کې بندول) تمایل پیاوړی کوي؛ او په روزمره عملي ژوند کې "حق" د "هویت" تابع ګرځوي.
په پای کې سپارښتنې او د رغنده نقد بلنه وړاندې کیږي.

کلیدي کلمې: افغانستان، افغانان، ملي ارزښتونه، ملي وحدت، خپلواکي، تعصب، کلیشه، تبعیض، ایستنه، انحصار، ټولنیز انسجام

۱. سریزه
افغانستان د قومونو، ژبو، مذهبونو او کلتوري تنوع له کبله د ګلونو رنګارنګ بڼ دی. دا رنګارنګ بڼ که د انصاف (عدل)، زغم (تحمل)، متقابل احترام (یو د بل درناوی) او قانون‌پالنې (د قانون منل) تر سیوري لاندې وساتل شي، د ټولنې شتمني او ځواک ګرځي؛ خو که له اړخنیونې (تعصب)، نابرابر چلند (تبعیض) او واک‌محور انحصار (قدرت په یوه کړۍ کې بندول) سره یو ځای شي، نو د بې‌باورۍ، ټولنیز واټن د زیا تیدو او ګډ ژوند او ګډ کار د کمېدو او ضعف لامل کیږي. له همدې امله د "تعصب" موضوع یوازې اخلاقي بحث نه دی؛ بلکې د ټولنیز ثبات، دولت‌جوړونې (د ادارې او نظام بنسټ ایښودنه)، ملي همغږۍ او خپلواک تصمیم‌نیونې اساسي مسئله ده.

### ۱.۱ د څېړنې موخه او اساسي پوښتنه

دا لیکنه هڅه کوي بحث د احساساتي حملو، ټاپو او توندۍ له ساحې وباسي او د مفاهیمو (اصطلاحاتو) په روڼولو سره د اړیکو زنځیر روښانه کړي. د لیکنې اساسي پوښتنه دا ده:
ایا تعصب د ملي ارزښتونو، ملي وحدت او خپلواکۍ لپاره بنسټیز خنډ دی؟
که ځواب هو وې،نو ددی خنډ مخه څنګه په پوهه او حکمت نیول کیږې ( علمې او عملي میکانیزم) او د کمولو علمي لارې کومې دي؟

### ۱.۲ میتودولوژي (د لیکنې تګلاره)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا لیکنه مفهومي–تحلیلي بڼه لري (Qualitative Analysis) او د افغاني تجربې/عرف او نړیوالو علمي نظریو تر منځ مقایسوي تحلیل کوي، اصطلاحات کره کوي، او د علت–معلول اړیکې تشریح کوي (Allport, 1954؛ Tajfel & Turner, 1979).
دا بحث د پورتنیو اصولو پر بنسټ ولاړ دی؛ له همدې امله د میداني سروې او احصاییي نشتون د (Quantitative Analysis) "مقداري" تحلیل په برخه کې محدودیت موجود دی (لیکوال خپله خواري کړې، خو مستند علمي اسناد یې نه دي پیدا کړي).

## ۲. ملي ارزښتونه، ملي وحدت او خپلواکي

### ۲.۱ ملي ارزښتونه (National Values)

تعریف:
ملي ارزښتونه هغه ګډ اخلاقي او ټولنیز اصول دي چې د ګډ ژوند بنسټ جوړوي؛ لکه انصاف (عدل)، مېلمه‌پالنه، جرګه او روغه‌جوړه (منځګړیتوب/سوله‌ییز حل)، متقابل احترام، حق‌الناس (د خلکو حقونو ته پام)، امانت‌داري، د مشر او کشر ادب، کورنۍ ته درناوی، ټولنیز مسوولیت او د ګډ خیر احساس (عامه خیر). دا ارزښتونه په ورځني عرف، دود او د خلکو په متقابل چلند کې ژوندي ښکاري.
نړیوال تعریف:
په نړیوالو څېړنو کې ملي ارزښتونه د مدني نورمونو او باورونو هغه ټولګه ده چې سیاسي کلتور او عامه چلند تنظیموي؛ لکه قانون‌پالنه، برابري، ټولنیز عدالت او عامه خیر (Inglehart & Welzel, 2005؛ Rawls, 1971).

اړیکه (تعصب څنګه زیان رسوي؟):
تعصب هغه وخت ملي ارزښتونه کمزوري کوي چې انصاف د "ډلې ګټې" تابع شي او حق د "هویت" تابع شي؛ یعني د انسان ارزښت د انسانیت پر ځای د ډلې په پیمانه سنجول پیل شي.

### ۲.۲ ملي وحدت (National Unity)

تعریف:
ملي وحدت د قومونو، ژبو او سیمو تر منځ د ګډ هویت احساس، ګډو موخو ته ژمنتیا، او د اختلاف سوله‌ییز مدیریت دی. د اختلاف پر مهال مشوره، جرګه، بښنه او روغه‌جوړه د همغږۍ دوديزې لارې دي.

نړیوال تعریف:
ملي وحدت د ټولنیز انسجام (Social Cohesion) او ګډ هویت په کچه سنجول کېږي؛ یعني په ټولنه کې باور، مشارکت، همکاري او ګډ مسؤلیت لوړ وي (Putnam, 2007؛ Durkheim, 1893/1984).

اړیکه (تعصب څنګه زیان رسوي؟):
تعصب د "موږ/هغوی" ذهنیت زیاتوي، ورسره کلیشه (ټاپه‌ییز تصور) پیاوړې کېږي، باور کمېږي، ټولنیز واټن ډېرېږي او ګډ کار کمزوری کېږي؛ په همدې بهیر کې وحدت له "عمل" څخه "شعار" ته نږدې کېږي.

### ۲.۳ خپلواکي (Sovereignty/Independence)

تعریف:
خپلواکي د ملي عزت، سیاسي خپل‌اختیاري او داخلي ثبات مانا لري؛ یعني ملت په خپل کور کې د خپل برخلیک، اداري او تګلارې په اړه خپله پرېکړه کوي او د پردي تر فشار، زور یا قیمومیت (سرپرستۍ) لاندې نه وي.

نړیوال تعریف:
خپلواکي د دولت حقوقي او سیاسي واک ته ویل کېږي چې د خپل قلمرو، اداري او بهرنۍ تګلارې په اړه خپلواکه پرېکړه وکړي (Krasner, 1999).

د خپلواکۍ مهم ډولونه:
•سیاسي خپلواکي: د نظام، قانون، حکومتولۍ او بهرنۍ پالیسۍ د ټاکلو خپل حق.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

•اقتصادي خپلواکي: د سرچينو، بودجې، توليد او سوداګرۍ د بنسټيزو پرېکړو ورتيا؛ داسې چې اقتصاد د مطلقې وابستګۍ ښکار نه شي (Sen, 1999).
•فکري/فرهنګي خپلواکي: د فکر، ژبې، کلتور او ملي روايت د خپلواک ساتنې ځواک (Berlin, 1969).
•اداري/حقوقي خپلواکي: د ادارو او قانون د پلي کېدو خپلواک صلاحيت؛ د قانون حاکميت (Rule of Law) او حساب‌ورکوونه.
•ټولنيزه خپلواکي: د باور، همغږۍ او مدني بنسټونو ځواک، چې ولس بهرني نفوذ ته د داخل نه ننوتلو "داخلي ديوال" جوړوي.

اړيکه (تعصب څنګه زيان رسوي؟):
داخلي بې‌باوري او تبعيض د بهرني نفوذ لپاره تشه جوړوي؛ کله چې ټولنه له دننه کمزورې شي، خپلواکه پرېکړه هم کمزورې کېږي.

۳. تعصب: تعريف، اجزا او کره مفهومي معيار
**۳.۱ تعصب په افغاني/محلي چوکاټ کې**
تعصب هغه تمايل دی چې فرد يا ډله د خپل قوم، ژبې، سيمې، مذهب يا سياسي هويت د برترۍ احساس ولري او د نورو د حق، کرامت او ګډون پر وړاندې غير عادلانه محدوديت رامنځته کړي. دا حالت له ځان‌غوښتنې، ځان‌محورۍ او انحصاري چلند سره تړاو لري او د ګډ ژوند توازن ګډوډوي.

**۳.۲ تعصب په نړيوال/ټولنيز ارواپوهنيز چوکاټ کې**
په ټولنيزې ارواپوهنه کې تعصب د درېيو اړخونو ګډ بهير دی:
•کليشه (Stereotype): د يوې ډلې په اړه ساده‌کوونکې عمومي انګېرنه
•منفي تمايل (Prejudice/Attitude): منفي قضاوت/احساس
•تبعيضي چلند (Discrimination/Behavior): په عمل کې د حق او فرصت توپير (Allport, 1954)

د ټولنيز هويت نظريه هم ښيي چې کله "ډله" د انسان د ارزښت معيار شي، د نورو ډلو پر وړاندې د ايستنې (ګوښه کول) او انحصار تمايل پياوړی کېږي (Turner, 1979 & Tajfel).

**۳.۳ د اصطلاحاتو روښانه کرښه**
په دې مقاله کې:

•تعصب: ذهني/هويتي اړخينونه او د برترۍ تمايل
•کليشه: مخکې له مخکې جوړ شوی ټاپه‌ييز تصور
•تبعيض: په عمل کې نابرابر چلند
•ايستنه: له حقه يا مشارکته ګوښه کول
•انحصار: واک/فرصت يوې ډلې ته محدودول.

۴. د تعصب ډولونه او تعريف
**۴.۱ قومي تعصب**
د يوې قومي ډلې برترې او د نورو ټيټ ګڼل. په دې ډول تعصب کې د دولت، اداري او فرصتونو معيارــــ د حق، وړتيا او عدالت "استحقاق"ــــ نه، بلکې "قوم/هويت" ګرځي. پايله يې بې‌باوري، ټولنيز واټن او د ګډو ملي پروژو کمزورېدل دي.
**۴.۲ ژبنی تعصب**
د يوې ژبې يا لهجې مطلقه يا نسبي برترې او د نورو ژبو/لهجو سپکاوی يا محدودول. دا تعصب د تعليم، اداري او عامه خدمتونو په برخه کې د ګډون خنډونه جوړوي او ځينو وګړو ته د "دويم درجه" احساس ورکوي.
**۴.۳ مذهبي تعصب**
د يوې مذهبي ډلې ځان‌حق ګڼل او د نورو د ديني ازادۍ، کرامت او مدني حقونو محدودول. پايله يې د زغم کمېدل او د ټولنې او ولسونو افراطي قطب‌بندي (د واټن زياتېدل) ده.
**۴.۴ سياسي تعصب**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د یوې سیاسي ډلې ړوند ملاتړ او د مخالف د مدني حقونو نادیده کول. په دې حالت کې نقد "دښمني" ګڼل کېږي، او سیاست د اجماع پر ځای د حذف او انتقام لور ته ځي.

**۴.۵ کلتوري تعصب**

د یوه کلتور، دود یا سیمه‌ییز رواج مطلقه برتري او د نورو دودونو ټیټ ګڼل. دا تعصب د ګډ ملي هویت پر ځای د فرعي هویتونو ټکر ته زمینه برابروي.

**۴.۶ جنسیتي تعصب**

د ښځې او نارینه ترمنځ توپیر (د اسلامي او افغاني منل شوو ارزښتونو په رڼا کې) نابرابر ارزښت ټاکل او د فرصتونو محدودول. پایله یې د استعدادونو ضایع کېدل او د ټولنیز پرمختګ ټکنی کېدل دي.

**۴.۷ طبقاتي/اقتصادي تعصب**

د شتمن او بې‌وزله ترمنځ تحقیر او توپیر، او د فرصتونو نابرابر وېش. پایله یې بې‌عدالتي، د ټولنې اعتماد کمېدل او د ګډ خیر کمزوری کېدل دي.

**۴.۸ سیمه‌ییز تعصب**

د یوې سیمې برتري ګڼل او د نورو سیمو د خلکو سپکاوی. پایله یې د ملي پروژو پر وړاندې خنډونه او د یووالي کمزوري کېدل دي.

**۴.۹ نسلي/توکمي تعصب**

د نسل، رنګ یا توکم پر بنسټ توپیر. دا ډول تعصب انسان د خدای د مخلوق په توګه نه، بلکې د ظاهري ځانګړنو پر اساس قضاوت کوي او د کرامت اصل زیانمنوي.

**۴.۱۰ تعلیمي تعصب**

د تعلیم او زده‌کړو لپاره مذهبي، قومي او یا ژبنی درجه‌بندي. پایله یې د ټولنې د طبقو ترمنځ فاصله، د ګډ کار کمېدل او د ولسونو تر منځ د واټن زیاتېدل دي.

**۴.۱۱ مسلکي تعصب**

د مسلک له مخې د انسان ارزښت ټاکل؛ لکه یو کس یوازې د دندې/عنوان له مخې لوړ یا ټیټ ګڼل. دا تعصب د متقابل احترام فرهنګ کمزوری کوي.

**۴.۱۲ ایدیالوژیک تعصب**

د یوې فکري لارې ړوند ملاتړ او د نورو د فکر مطلق رد. پایله یې د علمي بحث بندېدل، د اصلاحاتو پر وړاندې مقاومت، او فکري ټپونه دي.

۵. تحلیلي اړیکې (میکانیزمونه)

**۵.۱ تعصب او ملي ارزښتونه**

تعصب د عدالت پر ځای د ډلې ګټه معیار ګرځوي او د کرامت پر ځای هویتي درجه‌بندي رامنځته کوي. په دې بهیر کې د ایستنې او انحصار تمایل پیاوړی کېږي او ملي ارزښتونه—لکه انصاف، امانتداري، حق‌الناس او متقابل احترام—په تدریج کمزورېږي.

نو کله چې "استحقاق" ( حق او ورتیا) شاته پاتې شي او "هویت" مخته شي، عدالت د خلکو په سترګو کې کمزوری کېږي او د ګډ خیر احساس زیان ویني.

**۵.۲ تعصب او ملي وحدت**

تعصب باور کموي، ګډ هویت ټوټه کوي او ټولنیز واټن زیاتوي. اختلاف چې باید د مشورې، جرګې او قانون له لارې مهار شي، د "موږ/دوی" پر ذهني کرښه ولاړ بحث ته نردې کېږي.

په نتیجه کې ملي وحدت پر احساساتي شعارونو ولاړ پاتې کېږي، نه پر واقعي باور، ملا تړ او همکارۍ.

**۵.۳ تعصب او خپلواکي**

خپلواکي یوازې شعار نه دی؛ خپلواکي د قوي داخلي بنسټونو پایله ده. داخلي بې‌باوري د بهرني نفوذ لپاره فضا پراخوي او ملي پرېکړه کمزوري کوي. تعصب د خپلواکۍ:

- سیاسي ستنه د ټولنیز اجماع د عدم موجودیت او حذف له لارې کمزورې کوي؛
-


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اقتصادي ستنه د نابرابر فرصتونو او انحصار له لارې زيانمنوي؛
•فکري ستنه د کرکې، کليشو او د علمي بحث د تنګېدو له لارې ټپي کوي؛
•
اداري ستنه د قانون د دوه‌ګوني تطبيق او کم حساب‌ورکووني له لارې کمزورې کوي.

۶. اسلامي او اخلاقي چوکاټ (د تعصب ضد بنسټونه)
اسلام د انسان کرامت، عدالت او ورورولي بنسټيز اصول ګڼي او انفرادي او ډله‌ييز تعصب ردوي. دلته هدف د اخلاقي–ټولنيز اصولو بيان دی:

•قرآن کريم: انسانان په قومونو او قبيلو وېشل شوي "تر څو يو بل وپېژنئ"، او د کرامت معيار "تقوا" ده (الحجرات ۴۹:۱۳).
•قرآن کريم: د کوم قوم کرکه دې انسان له عدالت څخه منع نه کړي؛ "عدل وکړئ، دا تقوا ته نږدې دی" (المائدة ۵:۸).
•حديث: د عصبيت دعوت او ملاتړ رد شوی (Sunan Abi Dawud, 5121).
•حديث: د جاهلي شعارونو پرېښودل ښوول شوي (Sahih al-Bukhari, 4905؛ Sahih Muslim, 2584).

دا اصول د افغاني منل شوو ارزښتونو—لکه ښېنه، انصاف، روغه‌جوړه، مېلمه‌پالنه او د انسان حرمت—سره همغږي دي او د تعصب د کمېدو اخلاقي بنسټ پیاوړی کوي.

**۷. سپارښتنې**

۱) تعليمي اصلاحات
د ښوونځي او پوهنتون په نصاب کې د مدني اخلاقو، زغم، ګډ تابعيت او د اختلاف د سالم مديريت مفکوره پیاوړې کول؛ د کليشو او کرکې ژبې مخنيوی، او د ګډ ملي هويت د "عملي" مضمونونو زياتول.

۲) قانوني عدالت او د تبعيض ضد ميکانيزمونه
شفاف استخدام، مساوي فرصتونه، د شکايت اورېدنې واضح لارې، او د ادارو حساب‌ورکوونه پیاوړې کول؛ څو د قوم، ژبې، سيمې او جنس پر بنسټ پټ يا ښکاره تبعيض کم شي.

۳) رسنيز مسؤوليت او عامه خبرې اترې
د کرکې ژبې کمول، حقيقت‌محور بحث دودول، د افواهاتو مخنيوی، او د ګډو ملي روايتونو پیاوړتيا؛ رسنۍ دې د اختلاف پر مهال د "سولې ژبه" عامه کړي، نه د لمسوونکي ژبې بازار.

۴) ديني–اخلاقي توازن
د عدالت، اخوت، کرامت او حق‌الناس پيغامونه د اعتدال په چوکاټ کې خپرول؛ ديني منبرونه دې د تعصب پر ضد د قرآن او سنتو واضح اصول تکرار کړي.

۵) ټول‌شموله سياست او عادلانه استازيتوب
د مشارکت او استازيتوب عادلانه جوړښت، د اختلاف سوله‌ييز مديريت، او د ملي ګټو پر محور د سياسي اجماع هڅول؛ څو سياست د حذف پر ځای د ګډ کار لور ته لاړ شي.

۶) کلتوري همغږي او د تنوع درناوی
د کلتوري تنوع درناوی، د سيمو او ژبو ترمنځ فرهنګي تبادله، او د ګډ ملي هويت پیاوړتيا؛ داسې چې "تنوع" د شتمنۍ په توګه وپېژندل شي، نه د ټکر په توګه.

۷) اقتصادي عدالت او د فرصتونو متوازن وېش
د کار، خدمتونو او پروژو په وېش کې عدالت؛ ځکه اقتصادي انحصار او نابرابري تعصب ته " امتياز او تر جبح" ورکوي او د ټولنې اعتماد ماتوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۸) نړیوالي تجربې د محلي واقعیت له مخې سمول
د ټولنیز انسجام نړیوالي تجربې له افغاني کلتوري واقعیت سره سمول، نه دا چې بې له تعدیله نقل شي.

**۸. پایله**
تعصب هغه مهال بنسټیز خنډ ګرځي چې د عدالت، زغم او متقابل احترام پر ځای تبعیض او انحصار پیاوړی کړي.
په افغانستان کې د ملي ارزښتونو پیاوړتیا، د ملي وحدت ټینګښت او د خپلواکۍ ساتنه درې داسې ستنې دي چې یو بل ته اړتیا لري. که ملي ارزښتونه کمزوري شي، وحدت شعاري پاتې کېږي؛ که وحدت زیانمن شي، خپلواکي د بهرني نفوذ پر وړاندې ناتوانه کېږي؛ او که خپلواکي زیانمنه شي، د ټول ملت عزت او شمله زخمي کېږي او د عدالت او پرمختګ فرصتونه محدودېږي.
نو حل یوازې په شعارونو نه کېږي. حل په دې کې دی چې عدالت د دولت او ټولنې عملي معیار شي، قانون د ټولو لپاره یو شان پلی شي، تعلیمي او رسنیز بنسټونه د زغم فرهنګ جوړ کړي، دیني پیغامونه د کرامت او حق‌الناس پر محور وړاندې شي، او سیاست د حذف پر ځای د ګډون او اجماع پر لور ولاړ شي. که ټولنه د ګډ هویت، عادلانه مشارکت او متوازن فکر پر بنسټ ودرېږي، تعصب خپل زور له لاسه ورکوي او د سالم ملي ژوند لپاره زمینه پراخېږي.

**د لیکوال هیله او بلنه**
لیکوال دا مقاله د افغانستان د خیر، د افغانانو د ګډ فکر، او د علمي ادب د دود لپاره وړاندې کوي. د دې لیکنې موخه د کوم شخص، قوم، ژبې، سیمې یا ډلې نښه کول نه دي؛ بلکې د "تعصب" موضوع د منصفانه ژبې، علمي معیار او اخلاقي توازن په رڼا کې توضیح کول دي، څو بحث د احساساتو له توندۍ څخه د دلیل، انصاف او زغم خوا ته ولاړ شي.

لیکوال له قدرمنو لوستونکو، پوهانو، استادانو، څېړونکو، دیني علماوو، مدني فعالانو او د نظر خاوندانو څخه په درنښت غوښتنه کوي چې:
که په لاندې برخو کې کومه تشه، نیمګړتیا یا ابهامویني، په علمي ادب او مستند دلیل یې روښانه کړي چې موږ ټول ترې زده‌کړه وکړو.

- د مفاهیمو د تعریف کره‌والی
- د علت–معلول زنځیر
- محلي واقعیتونه
- د حل لارو عملي کول

همدا راز، لیکوال د رغنده نقد "ادب" هم مهم ګڼي:
نقد دې پر دلیل ولاړ وي، د اشخاصو پر ځای دې پر مفکورې/استدلال تمرکز وکړي، او د اصلاح نیت دې پکې غالب وي.
د لیکوال هیله دا ده چې دا مقاله یوازې د لوست لپاره نه، بلکې د بحث د پیاوړتیا، د اصطلاحاتو د کره کولو، او د ټولنیز همغږۍ د علمي لارې موندلو لپاره د "یوې ګډې علمي هڅې" پیل شي.

مننه او درناوی

جرمني ۰۲,۰۲,۲۰۲۶
محمدهمالون همت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ماخذونه (References)

### الف) نړیوال


١Allport, G. W. (1954). The Nature of Prejudice. Addison-Wesley.
٢Berlin, I. (1969). Two Concepts of Liberty. In Four Essays on Liberty (pp. 118–172). Oxford University Press.
٣Durkheim, É. (1984). The Division of Labor in Society (W. D. Halls, Trans.). The Free Press. (Original work published 1893).
٤Inglehart, R & ,.Welzel, C. (2005). Modernization, Cultural Change, and Democracy: The Human Development Sequence. Cambridge University Press.
٥Krasner, S. D. (1999). Sovereignty: Organized Hypocrisy. Princeton University Press.
٦Putnam, R. D. (2007). E Pluribus Unum: Diversity and Community in the Twenty-first Century—The 2006 Johan Skytte Prize Lecture. Scandinavian Political Studies, 30(2), 137–174.
٧Rawls, J. (1971). A Theory of Justice. Harvard University Press.
٨Sen, A. (1999). Development as Freedom. Alfred A. Knopf.
٩Tajfel, H & ,.Turner, J. C. (1979). An Integrative Theory of Intergroup Conflict. In W. G. Austin & S. Worchel (Eds.), The Social Psychology of Intergroup Relations (pp. 33–47). Brooks/Cole.


### ب) اسلامي/شرعي


١٠القرآن الكريم. سورة الحجرات، الآية ١٣ (٤٩:١٣).
١١القرآن الكريم. سورة المائدة، الآية ٨ (٥:٨).
١٢أبو داود، سليمان بن الأشعث. سنن أبي داود. كتاب الأدب، حديث رقم ٥١٢١.
١٣البخاري، محمد بن إسماعيل. صحيح البخاري. حديث رقم ٤٩٠٥.
١٤مسلم بن الحجاج. صحيح مسلم. حديث رقم ٢٥٨٤.


### ج) افغاني


١٥د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو ژورنال – د ملي هویت، ملي ارزښتونو او ټولنیز انسجام اړوند خپرې شوې څېړنې (بېلابېلې ګڼې).
١٦د افغانستان د علومو اکاډمۍ خپروني – د ټولنیز انسجام، مدني اخلاقو او ګډ تابعیت اړوند مقالې او څېړنې (بېلابېلې لړۍ/شمېرې).
١٧د افغاني علمي مجلو بېلابېلې ګڼې – د ملي یووالي، ټولنیزو ارزښتونو او تبعیض اړوند تحلیلي او څېړنیزې لیکنې .


جرمني ۰۲،۰۲،۲۰۲٦
محمد همالون همت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ